دمسلم پوهنتون علمي ـ څېړنيزه مجله

مجله‌ی علمی-تحقیقی پوهـنتون مسلم

د مقالې ترلاسه کولو نېټه(۲۳ /۰۹ /۱۴۰۴) لمريز کال

تاريخ نشر مقاله(۲۰ / ۱ / ۱۴۰۵) لمريز

# د اسیا د مالي ځواک ډېرېدل، د نړۍ په مالي نظام یې اغېزې

۱ . سید احمد گوهر

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، مسلم پوهنتون، غزنی، افعانستان.

ایمیل آدرس: sayedahmadgauhar999@gmail.com

## لنډيز

نړيوال اقتصاد په هغو قوانينو، معيارونو او پروسو تکيه لري چې د پيسو ليږد او مالي فعاليتونو کنټرول ترسره کوي. عصري نړيوال مالي سيستم د آزاد بازار او سوداګريزې ګټې پر اصولو ولاړدی. په دې سيستم کې پانګه (پيسې) په آزاد ډول هيوادونو ته ليرل کيږي او سوداګر کولی شي ګټه ترلاسه کړي. د اوسني نړيوال مالي سيستم قواعد عمدتاً د امريکا او اروپايي هيوادونو لخوا د ۱۹۷۰مو کلونو په نيمايي کې جوړ شول، کله چې د برېټن ووډز سيستم پای ته ورسيده، د اوږد وخت لپاره لويديځ د نړيوال مالي سيستم کنټرول درلود، په تيرو پنځوسو کلونو کې اسيا د نړيوال مالي سيستم په برخه کې ډېره ونډه ترلاسه کړې ده، نو اړينه ده، چې د اسيا رول په نړيوال مالي نظام کې څرګند شي، زموږ له لوري په توصيفي او تحليلي بڼه د معتبرو کتابونو، انټرنيټي سايټونو، معتبرو ژورنالونو او مقالو څخه په را اخيستل شويو دويم لاس معلوماتو کې څرګندېږي، چې اسيا يوازې په نړيوال مالي بازار کې برخه نه لري، بلکې د مالي منابعو لوی مرکز هم دی. د ۲۰۲۰ کال د کرونا وبا په پيل کې، د اسيا مالي سيستمونه د نړيوالو بانډونو ۳.۲۹٪، د نړيوالو سټاکونو ۳.۳۴٪ او د مارکيټونو ۱.۴۳٪ سلنه برخه درلوده، اسيايي ښارونه لکه هانګ کانګ، سنګاپور، شانګهای او توکيو د نړيوالو مالي مرکزونو په توګه مخکښ رول لري، ډېر مخکښ نړيوال مالي مرکزونه اوس په اسيا کې دي، او دغه سيمه د نړۍ لوی بانکونه، د تقاعد صندوقونه (pension funds) او د دولت ملکيت لرونکي پانګونې صندوقونه (sovereign wealth funds) لري. څېړنې ښودلې چې په اوسني دور کې د اسيا د مالي ځواک ډېرېدل په نړۍ وال مالي بازارونو او نظام باندې مستقيمې اغېزې لري، څکه دا څېړنه د اسيا د ټوليز نفوذ او اغيز په نړيوال مالي نظام په کيفي ډول څېړي( دا څېړنه د نوعيت له مخې کيفي او د معلوماتو د راټولو له مخې کتابتونې چې پکښې معلومات په توصيفي او تحليلي بڼه له معتبرو کتابونو، څېړنيزو مقالو او انټرنېټي معتبرو سرچينو څخه راټول شوي او تحليل شوي دي، تر څو د اسيا د مالي ځواک ډېرېدل او په نړيوال مالي نظام يې اغېزې په هر اړخيز ډول روښانه شي).

**کليدي ټکي:** پانګه؛ صادرات؛ مالي نظام؛ مالي سيستمونه؛ نفوذ؛ نړيوال مالي بازار؛ واردات.

# The Growing Financial Influence of Asia and Its Effects on the Global Financial System

Sayed Ahmad Gauhar[1*],

1 Faculty of Law and Political Science, Muslim University, Ghazni/Ghazni, Afghanistan.

Email: sayedahmadgauhar999@gmail.com

## Abstract

The global economy relies on a set of rules, standards, and processes that regulate the transfer of money and financial activities. The modern international financial system is based on the principles of a free market and commercial profit. Within this system, capital (money) moves freely across countries, allowing traders to generate profits. The rules of the current international financial system were largely established by the United States and European countries in the mid-1970s, following the collapse of the Bretton Woods system. For a long time, the West maintained control over the global financial system; however, over the past fifty years, Asia has gained a significant share of it. Therefore, it is essential to highlight Asia's role in the global financial order.

Based on descriptive and analytical approaches, using secondary data collected from reputable books, online sources, reputable journals, and articles, this study demonstrates that Asia is not only an active participant in the global financial market but also a major hub of financial resources. At the onset of the coronavirus pandemic in 2020, Asian financial systems accounted for 29.3 percent of global bonds, 34.3 percent of global stocks, and 43.1 percent of market capitalization. Asian cities such as Hong Kong, Singapore, Shanghai, and Tokyo play leading roles as global financial centers. Many of the world's leading financial centers are now located in Asia, and the region hosts major global banks, pension funds, and sovereign wealth funds.

The findings indicate that the increasing financial power of Asia in the contemporary era has direct impacts on global financial markets and systems. Therefore, this study examines the overall influence and impact of Asia on the global financial system through a qualitative approach (this research is qualitative in nature and library-based in terms of data collection; the data have been gathered and analyzed in descriptive and analytical forms from reputable books, academic journals, research articles, and credible online sources to comprehensively clarify the rise of Asia's financial power and its impacts on the global financial system).

**Keywords:** Exports; Financial System; Financial Systems; Global Financial Market; Imports; Influence; Investment

**۱ـ سریزه**

نړیوال اقتصاد په هغو قوانینو، معیارونو او پروسو تکیه لري چې د پیسو لیږد او مالي فعالیتونو کنټرول ترسره کوي، عصري نړیوال مالي سیستم د آزاد بازار او سوداګریزې ګټې پر اصولو ولاړ دی. په دې سیستم کې پانګه (پیسې) په آزاد ډول هیوادونو ته لیږل کیږي، او سوداګر کولی شي ګټه ترلاسه کړي. د اوسني نړیوال مالي سیستم قواعد عمدتاً د امریکا او اروپایي هیوادونو لخوا د ۱۹۷۰مو کلونو په نیمایي کې جوړ شول، کله چې د برېټن ووډز سیستم پای ته ورسیده، د اوږد وخت لپاره لویدیځ د نړیوال مالي سیستم کنټرول درلود (Drezner & McNamara, 2013)په تیرو پنځوسو کلونو کې اسیا د نړیوال مالي سیستم په برخه کې ډیره ونډه ترلاسه کړې ده، نو اړینه ده، چې د اسیا رول په نړیوال مالي نظام کې څرګند شي، اسیا یوازې په نړیوال مالي بازار کې برخه نه لري، بلکې د مالي منابعو لوی مرکز هم دی. د ۲۰۲۰ کال د COVID-19 وبا په پیل کې، د اسیا مالي سیستمونه د نړیوالو بانډونو ۳.۲۹٪، د نړیوالو سټاکونو ۳.۳۴٪ او د مارکیټونو ۱.۴۳٪ سلنه برخه درلوده، اسیایی ښارونه لکه هانګ کانګ، سنګاپور، شانګهای او توکیو د نړیوالو مالي مرکزونو په توګه مخکښ رول لري، ډېر مخکښ نړیوال مالي مرکزونه اوس په اسیا کې دي، او دغه سیمه د نړۍ لوی بانکونه، د تقاعد صندوقونه ( pension funds) او د دولت ملکیت لرونکي پانګونې صندوقونه (sovereign wealth funds) لري. دا څېړنه د اسیا ټولیز نفوذ او اغیز په نړیوال مالي نظام څېړي او د موضوع اړوند ټول اړخونه په مکمل ډول تشریح کوي (Rethel & Thurbon, 2020).دا څېړنه د نړۍ د لویو وچو د مالي ځواک پېژندنې او په نړیوال مالي نظام یې اغیزې، د اسیایې هیوادونو د مالي ځواک عوامل او په نړیوال مالي نظام کې د هغوی سهم او ونډې پېژندلو همدارنګه اوسنی نړیوال مالي نظام او د اسیا د مالي ځواک پېژندلو په موخه ترسره کېږي، په څېړنه کې به و څېړل شي، چې د اسیایي هیوادونو د مالي ځواک له زیاتیدو څخه مخته په نړیوال مالي نظام باندي د کومو لویو وچو مالي نظامونو اغېز لرل؟ ایا د اسیایې هیوادونو مالي پیاوړتیا د نړۍ په مالي نظام باندي تأثیر لري؟ د اسیایي هیوادونو د کومو مالي ستراتېژیانو او تګلارو په مرسته وکولای شول، چې د غربي او اروپایي هیوادونو د مالي ځواکونو رول په نړیوال مالي نظام باندي راکم کړي؟

همدارنګه دا مقاله دا هم څېړي چې د اسیا مالي سیستمونه د نړیوال بازار سره کوم توپیرونه لري اود دي توپیرونو اغیز په سیمه ییز او نړیوال مالي بازار څه دی؟ د لویو اسیایي اقتصادونو پوهه د نړیوال اقتصاد د اغېز لپاره حیاتي ده، چې د چین، هندوستان او اندونیزیا مالي سیستمونه تحلیل کړي ترڅو وګوري چې دوی له نړیوال مالي سیستم سره څنګه یوځای کیږي؟

اسیا د نړیوالو مالي معیارونو او اصولو په جوړولو کې فعاله ونډه لري، اسیایي حکومتونه او شرکتونه د خپلو ملي مالي سیستمونو او نړیوالو مالي بازارونو ترمنځ د پل جوړونکي رول لوبوي، د پورونو د ورکړو په طرز، پراختیایي تمویل او د اسعارو د تبادلې په مدیریت کې، اسیایي حکومتونه او شرکتونه نوي طریقې او نوښتونه لري، د اسیا د مالي ځواک لوړوالی په سیمه‌ییز او نړیوال مالي سیستم اغیز کوي، او موجود مالي ځواکونه (لکه متحده ایالات او اروپا) د اسیا مالي سیستم څاري او ارزوي، په ځانګړې توګه د نړیوالو سیاسي شخړو په شرایطو کې یې څارنه د خاصو شرایطو لاندې ترسره کیږي(Pape & Petry, 2024).

د نړیوالو مالي تعاملاتو په پرمختګ کې د نظرونو او لید لوری ډېر اغیز لري، اسیایي حکومتونه او شرکتونه خپل ځای په نړیوال مالي سیستم کې څنګه ګوري؟ د نورو لویو وچو هیوادونو لیدلوری د دوی په اړه څه دي؟ د لویدیځ لخوا په را منځته شوي ازاد نړیوال نظم کې چین کوم ځای لري؟ د پرمختللو هېوادونو اتحادیې څنګه په نړیوالو سازمانونو اغیز کوي؟ او چین څنګه د متحده ایالاتو د مالي مشرۍ مخه نیسي؟

معاصر نړیوال مالي نظام په دوو اصلي پړاوونو ولاړ دی: (۱) د بریټن ووډز دوره (1944–1971) او (۲) د نیولیبرال نظم دوره (له 1970 وروسته). په دواړو مرحلو کې د نړیوال مالي ادارو جوړښت تر ډېره د لوېدیځ سیاستونو، اقتصادي منطق او نړیوالو موخو تر اغېز لاندې و، په داسې حال کې چې اسیایي هېوادونه په لومړیو کې یوازې ثانوي او محدود رول درلود، خو اوس د وخت په تېریدو سره ښکاري، چې د اسیا رول په نړیوال مالي نظام کې بې اغېزې نه دی، چې ورسره نړیوال مالي نظام یو بل نوي پړاو ته داخلېدونکی دی(Ortiz, 2025).

## ۲ـ د څېړنې میتود

دا څېړنه د نوعیت له مخې کیفي او د معلوماتو د راټولو له مخې کتابتونې چې پکښې معلومات په توصیفي او تحلیلي بڼه له معتبرو کتابونو، علمي ژورنالونو، څېړنیزو مقالو او انټرنېټي معتبرو سرچینو څخه راټول شوي او تحلیل شوي دي، تر څو د اسیا د مالي ځواک ډېرېدل او په نړیوال مالي نظام یې اغېزې په هر اړخیز ډول روښانه شي.

## ۳ـ موندنې

د اسیایي مالي ځواک او نړیوالو بازارونو سره د ادغام ستراتیژۍ:

اسیا د یو واحد مالي بلاک په څېر نه دی؛ د اسیا د مالي سیستم دا تنوع د نړیوال مالي سیستم سره د یو ځای کیدو لپاره څو اړخیز شکل لري. که څه هم نړیوال مالي سیستم غواړي واحدې کړنلارې رامنځته کړي، خو د اسیا هیوادونه د مالي سیستم او د بازار لپاره مختلف جوړښتونه لري. په نړیوال مالي نظام کې د پانګې ډېروالی اغیز لري په دې اساس د اسیا اهمیت یوازې د پیسو په ډېروالي کې نه دی. بلکې اصلي ارزښت یې په دې کې دی چې دغه پانګه څنګه اداره کیږي او کومې لارې تعقیبوي(Abdelal, 2007).

اسیا د مالي چارو په اړه ځانګړې فلسفې لري چې له لویدیځو کړنلارو سره توپیر لري، دا نظرونه د لویدیځ مالي کلتور ننګوي، دوی ښه پوهېږي چې د اسیا اسعار پرته له دې چې د جاپان ین وي په نړیوالو اسعارو کې د ټیټ مقام لرونکي دي اود اسیا اسعار نړیوال ځواک نه لري. ځکه نړیوال مالي سیستم د لویدیځ لخوا رامنځته شوی او اسیا وروسته ورننوته، اسیایي هیوادونه، په هغه نړیوال مالي سیستم کې ناوخته ورګډ شول چې د استعماري دورې راهیسې د لویدیځ (په ځانګړې ډول انګلو-امریکایي) لخوا جوړ شوی دی. د اسیا مالي سیستمونه له سیاسي اغېزو نه دي خلاص پاتې شوي په اسیا کې سیاست او مالي بازارونه سره تړلي دي. د پانګه‌والو بازارونه، د هغوی منځګړو او پروسو د نفوذ زیاتوالی په معاصر اقتصادي او سیاسي ژوند کې زیات لیدل کیږي (Cohen, 2018).

اسیا د مالي پراختیا لپاره خپل نوښتګرې لارې جوړې کړې. د اسیا پالیسي جوړوونکو او ادارو هڅه کړې چې د بیلابیلو ستراتیژیو له لارې کورني مالي سیستمونه پراخ کړي او هغه له نړیوالو مالي بازارونو سره وتړي، لکه د کورني پانګه وال بازارونوپراخول، نړیوالو مالي بنسټونه جوړول او د اسلامي مالي سیستم ته وده ورکول دي. اسیا د مالي ثبات په اړه ښه ستراتیژیاني لري، ځکه د اسیا مالي پالیسي جوړوونکو لپاره د ۲۰۰۷ نړیوال مالي بحران یو مهم پړاو و، چې بې‌ثباته نړیوالې پانګه د سیمې لپاره خطرناکې دي نو په دې اساس راتلونکو بحرانونو ته یې امادګي ونیوله.

د لویدیځ مالي نظام ناکامۍ د اسیا پالیسي جوړوونکو ته دا مهم درس ورکړ چې مالي سیستم باید د دولت له کنټرول پرته پرېنښودل شي، په عین وخت کې، د اسیا پالیسي جوړوونکي خپل سیاسي مشروعیت د دې پر بنسټ ټینګ کړ چې د مالي سکتور پراختیا د منځنۍ طبقې په شتمن کیدلو سره ممکن دی ځکه یې منځني طبقې ته فرصتونه زیات جوړ کړل(Karim, 2025).

د چین بانکونه او مالي موسیسي د بازار د اصولو تر څنګ د سیاسي او ټولنزو شرایطو سره په هماهنګي جوړیږي، ملي او سیاسي ګټې یې په نظر کې لري.د چین مالي موسیسي یوازې دا نه چې پیسې ګټي بلکې د ملیتپالنې او د حکومت تګلارې هم تعقیبوي. چین کې حکومت او بازار په همغږۍ مخته ځي. د چین مالي سیستم د هند مالي سیستم سره فرق لري، د هند لوی تاجران د دولت پر پالیسۍ اغېز کوي. هند کې د مالی سیستمونه په اړه ازادي د ټولو لپاره نه ده، بلکې یوازې د لویو شرکتونو د ګټې لپاره جوړه شوې ده. د درمل جوړولو شرکتونه او د ټیکنالوژۍ شرکتونه پراخې ازادۍ لري او د نړیوال پراختیا په برخه کې سیاسي محدودیتونه نه لري (Petry & Nölke, 2025).

اسیایي هیوادونه د پانګې په راجلبولو زیات تمرکز لري، د چین پانګه د سیمي د صنعتي تحریک لپاره اساسي رول لري د اندونیزیا د موروالي صنعتي پارک، چې د نیکل د بوم په منځ کې دی، او د چیني پانګې د جذبولو رول لري. دغه بهیر د اندونیزیا د مالي سیستم لپاره ګټور تمام شوي له یوي خوا د چین له نړیوالو کمپنو سره وصل شوی او له بلي خوا داخلي صنعت یي وده کړي. د چین پرمختګ سیمه ییزې اغېزې لري دا په سیمه کي اقتصادي تحرک رامنځته کړي چي دا په نړیوال بازار کي د اسیا حصه زیاتوي(Lee & Kim, 2025).

د اسیایي هیوادونو لاره انعطاف منونکې او محتاطه ده، اسیا پالیسي جوړونکي په عملي ډول هم اقتصادي اصلاحاتو ته رامنځته کوي، هم د کورنی ازادي مالي موسیساتو ته ورکوي او هم د نړیوالې پانګې ادغام په برخه کي له انعطاف څخه کار اخلي، د اصلاحاتو اصلي ځانګړنه دا ده ازادي خو د دولت تر څار لاندې به وي تر څو نړیوال اقتصادي بحرانونه کنټرول کړي او اغیزي یي محدودي کړي. په اصل کي د اسیایي هیوادونه دا محتاطانه حرکت د اروپایي هیوادونو د بي باکه اقتصادي پالیسو په وړاندي ده او اسیایي هیوادونه پانګه په ستراتیژیک ډول مدیریت کوي هم داخلي صنعت په پیاوړی کوي او هم نړیوال بازار کي خپل نفوذ زیاتوي(Gotoh, 2019).

د نړیوال مالي نظام بیا تعریف او تنظیم:

اسیا یا په دقیق ډول د اسیا حکومتونه او مالي مؤسسې په نړیوالو مالي چارو کې ورځ تر بلې ډېر مهم لوبغاړي ګرځېدلي دي، په ټولیز ډول د اسیا هېوادونه د ۵.۷ ټریلیونه ډالرو څخه زیات رسمي اسعارو ذخایر لري.په اسیا کې د نړۍ تر ټولو لوی تقاعدي صندوق ( pension fund ) شته او نږدې ۳۰ سلنه نړیوالې تقاعدي شتمنۍ د دوی تر کنټرول لاندې دي، د اسیا مالي مؤسسې له بانکونو او فِن ټېکونو څخه تر سټاک بازارونو پوري د نړیوالو مالي بازارونو په مهمو لوبغاړو بدل شوي دي(Hameiri & Moramudali, 2025).

په نړیوالو مالي نظام کې د اسیا راپورته کېدل نوې پوښتنې راپورته کړي چي د دولت رول د نړیوال اقتصاد په پیاوړتیا کي څومره دی او یوازي بازارونو ته واک ورکړل شي. د ۲۰۰۰ لسیزې په پیل کې داسې ګڼل کېده چې په ختیځ اسیا کې د "پرمختیایي دولت" پر ځای یو "نوي لېبرال تنظیمي دولت" راغلی دی، چې د قوانینو په عملي کولو کي او د پانګونې اړوند تصمیمونو کې د بازار پر پراخ رول ټینګار کوي، خو په نړیوالو بازارونو کې د اسیا د دولتي پانګه‌والو دوامداره شتون ښیي چې کیسه تر دې ډېره پېچلې ده، وروستیو څېړنو په ډاګه کړه چې د اسیا اقتصادونه لا هم د "پرمختیایي ذهنیت" لرونکي دي، ځکه حکومتونه په مالي چارو کې فعال رول لري (Petry, 2025).

دلته پوښتنه مطرح کېږي کله چي د اسیا پانګه نړیواله شي او حکومتونه فعاله رول ولري، نو د نړیوال مالي نظام لپاره به یې پایلې څه وي؟ لکه څنګه چي په کورني اقتصادونو کې لا هم "پرمختیایي فکر" ژوندی ښکاري، په نړیواله کچه موږ وینو چې اسیایي دولتونه د اقتصاد او مالي چارو کې ډېر فعال دي. د بېلګې په توګه: د ملي

اسعارو بانډونو بازار پراخول، د اسعارو زېرمې سمبالول، او د بهرنيو پانګونو جريان څارل او کنټرولول دي. په اسيايي هيوادونو کې عامه پانګه د خصوصي سکتور د هڅوني، د منځني طبقې د پانګې د خونديتوب، د ملي بانکونو او ملي پروژو د حمايت لپاره کارول کيږي چې د اقتصادي ثبات لپاره مهم عامل ګڼل کيږي (Pape, 2025).

د شمال ختيځې اسيا اقتصادونه د خپلو کورنيو لويو پانګوال ادارو (لکه د تقاعد لوی صندوقونه) نړيوال شکل تر لاسه کړی دی، حکومتونو له دې ادارو سره مرسته کوي تر څو نړيوال شکل غوره کړي ځکه حکومتونه په دې برخو له ذکرو شوو ادارو سره ملاتړ لري لکه د عامه پيسو بهر ته استول، د اسعارو د تبادلې محدوديتونه نرمول، او د مرکزي بانک له لوري د اسعارو بازارونو لپاره نوې لارې چارې تر کار لاندې نيول دي.

په عين وخت کې، نړيوالېدو ته وده ورکول دولتونو ته دا زمينه برابره کړه چې د اسعارو د تبادلې پرمختللې تګلاره غوره کړي. يعنې يوازې په اسعاري زېرمو تکيه ونه کړي، بلکې په ستراتيژيکو پانګونو (عامه او خصوصي سکتور) هم حساب وکړي چې پرمختيايي اهداف پوره کړي. دا د لوېديځو دولتونو له ليبرال کړنو سره ډېر توپير لري، چېرې چې هغوی يوازې د خطر کمولو (de-risking) پر بازارونو تکيه کوي.

جيسلين لي او سو يين کيم څېړنه کوي چې د چين په مشرۍ د اسيايي زيربنايي پانګونې بانک (AIIB) څنګه د پانګونې جريانونه رهبري کوي او د لوېديځو پرمختيايي مالي اصولو په وړاندې ننګوني را منځته کوي. د AIIB او نړيوال بانک ترمنځ د پام وړ همغږي شته، او د دواړو لومړيتوبونه يو پر بل اغېز لري، دا ښيي چې که څه هم د دواړو بانکونو د پور پروژې يو له بله توپير لري، خو د پرمختيايي مالي اصولو په برخه کې دواړه بنسټونه يو شان نظر لري. په ټوليز ډول، راتلونکی انځور تل د لوېديځو بازارونو د اصولو ښکاره ننګونه نه ده، بلکې د بديلو لارو د جوړېدو ښکارندوی دی، چې د ګڼو مالي کړنو د ګډ ژوند امکان برابروي(Musthaq, 2025).

د سوېل ختيځې اسيا دولتونه هم د مالي چارو هغه واکمنه نظريه ننګوي چې يوازې د ګټې د اعظمي کولو پر بنسټ ولاړه ده، دوی هڅه کوي چې  د مالي چارو يو رښتينی او پايدار ماډل جوړ کړي. د سوېل ختيځې اسيا هېوادونو ټولنې (ASEAN) له خوا د دوامدار مالي طبقه بندۍ جوړښت ښيي چې دغه دولتونه هم د لوېديځو، په ځانګړي ډول د اروپايي اتحاديې، د معيارونو تقليد کوي او هم د اسلامي مالي اصول د مالي مقرراتو تعقيبوي. دغه ډول کړنې دا ښيي چې د مالي معيار جوړونې پروسه نور يوازې د لوېديځ په لاس کې نه ده؛ بلکې نور د اسيا څخه سرچينه اخلي (Ortiz, 2025).

د اسيايي مالي ځواک راڅرګندېدل او زياتېدونکي جيوپوليټيکي تاوتريخوالي:

د اوږدې مودې لپاره د بازار د تنظیم لیبرال اصولو هغه څه تعریف کړل چې د نړۍوالې مالي تګلارې او مقرراتو په نوم پېژندل کېدل. یعنې د نړۍ مالي نظام د آزاد بازار له نظریې څخه الهام اخیستی و. دغه ډول د بازار تنظیم د نه مداخلې (non-interference)او د پانګې د آزاد حرکت (free movement) پر اصولو ولاړ و. دا نه یوازې د نوې لیبرال اقتصادي مفکورې پایله وه، بلکې د نړۍوالو مالي نابرابریو د ډېروېدو لامل هم وګرځېد. د بازار پر بنسټ مالي اصول او کړنې له لوېدیځ (په ځانګړي ډول د انګلیسي-امریکایي نړۍ) څخه نورو سیمو ته خپرې شوې. دا پروسه د لوېدیځو، په ځانګړې توګه د امریکا، مالي بنسټونو ځواک لا پیاوړی کړ، خو اوس چې اسیا په نړیوالو مالي چارو کې ډېر مهمه شوې، دغه موقتي حالت یې بدل کړی دی. یعنې نور لوېدیځ یوازې واکمن نه دی. د اسیایي پرمختیایي مالي ادارو د ودې له امله د نړۍ مالي نظام لا ډېر متنوع شوی دی. دا یو ژور او بنسټیز بدلون دی چې د هغې نوې لیبرال اجماع (ترانس‌اټلانتیک یا د امریکا او اروپا تر منځ همغږي) ته لوی د خطر زنګ دی، هغه همغږي چې د ۲۰۰۷-۲۰۰۹ نړیوال مالي بحران تر مخه د نړۍ د مالي نظام بنه ټاکلې وه (Ortiz, 2025).

دغه بهیر (یعنې د اسیا د مالي ځواک زیاتوالی او نړیوال نفوذ) د جیوپولیټیکي یا جغرافیایي سیاسي ملاحظاتو تر اغېز لاندې هم رامنځته شوی  هم د اسیا دننه، او هم د هغو زړو مالي قدرتونو له لوري چې مخکې یې نړیوال مالي نظام کنټرولوه.له یوې خوا، د اسیا مالي لوبغاړي (لکه دولتونه، بانکونه، او مالي بنسټونه) د جیوپولیټیکي موخو له مخې عمل کوي، یعنې د سیاست او اقتصاد ګډې موخې تعقیبوي. دا کړنې د پرمختیایي تګلارو او د "اقتصادي دولت داری" (economic statecraft) یوه برخه ده  چې د اقتصادي وسیلو په کارولو سره سیاسي اهداف تعقیبوي.له بلې خوا، د اسیا مالي کړنې د لوېدیځو هېوادونو له لوري د زیاتې څارنې او شک لاندې نیول شوي دي، خو دا څارنه د هېوادونو په کچه توپیر لري. دلوېدیځ هېوادونه د اسیا د مالي کړنو مخالفت د جیوپولیټیکي رقابتونو له امله کوي(Helleiner & Kirshner, 2014).

د ختیځې اسیا د پانګونې په اړه په سیلیکان وېلي کې، روبین کلینګلر ویدرا او رامون پچیکو پارډو دا نظر ردوي چې نړیوالې اقتصادي اړیکې یوازې د لوېدیځ د بازار ازاد اصول ختیځ ته لېږدوي، هغوی څرګندوي چې دا بهیر دوه طرفه دی، ختیځ هم پر لوېدیځ اغېز کوي. دوی د "return diffusion" (یعنې د افکارو بېرته خپرېدل) مفهوم وړاندې کوي. دا ښیي چې اوس د جاپان، جنوبي کوریا، تایوان او چین پانګه‌وال د سیلیکان وېلي تر ټولو ستر پانګه‌وال دي. هغه سیمه چې مخکې یې له لوېدیځ زده کړه کوله، اوس خپله اغېزه بېرته لوېدیځ ته لېږي، خو دا نوې مالي کړنې (چې ختیځ یې لوېدیځ ته بېرته لېږي) د مختلفو دولتي او اداري اصولو پر بنسټ دي. یعنې دا یوازې د ګټې لپاره نه، بلکې د حکومتونو د ځانګړو پالیسیو د هدف لپاره ترسره کېږي، د اسیا لوی شرکتونه

چې په سیلیکان وېلي کې نوښتگر شرکتونه تمویلوي، دا کار د اقتصادي سیاست یوه بېه ده چې ستراتیژیک او ټکنالوژیک اهداف تعقیبوي(Lee & Kim, 2025).

په دې وخت کې چې نړیوال سیاسي سیالۍ زیاتې شوې دي، دا ډول پانگونې ډېرې سیاسي شوې دي. د چین پانگونه تر ټولو زیاته څارل کېږي، ځکه لوېدیځ هېوادونه د چین د نفوذ څخه زیاته وېره لري، جیوپولیټیک یا جغرافیوي-سیاسي تاوتریخوالي اوس د ختیځې اسیا د یووالي او یوځای‌کېدو بېه له پرمختیایي او ازادپالې (لیبرالېزمې) مسایلو نه ورهاخوا لا ډېره اغېزمنه کړې ده، لکه څنگه چې د اسیایي خصوصي پانگې زیاتېدونکي بهیرونه د اسیایي پانگه‌والو د نفوذ او ځواک په اړه بحثونه راپارولي، همداسې د دولت په مشرۍ عامه پانگونه هم تر زیاتې څېړنې او نیوکې لاندې راغلې ده، خو د چین د پراخ پور ورکولو دا پړاو لا هم د نړیوال مالي نظام پر جوړښت اغېز لري او هغو لوېدیځو بنسټونو ته یو ځانگړی چلنج وړاندې کوي، لکه د «پاریس کلب» ( Paris Club) د پور مدیریت سازمان، چې چین پکې غړی نه دی(Lee & Kim, 2025).

دا څېړنه د چین پر هغو هڅو تمرکز کوي چې غواړي ستراتیژیکو توکو (commodities) ته خپل لاسرسی زیات کړي، او څرگندوي چې د لوېدیځ مالي نظام لا هم د نړیوالو توکو د بیې ټاکلو په بهیر کې مهم رول لري.چین، چې د نړیوالو توکو په بازارونو کې په نسبي توگه د تابع او کمواک په موقف کې ده، هڅه کړې چې د بیې ټاکلو واک ترلاسه کړي، او له دې لارې د امریکا تر واک لاندې مالي بازارونو څخه خپلواکي ترلاسه کړي، د دې لپاره یې خپل د توکو بنچمارکونه جوړ کړي دي، کله چې لوېدیځ سیاستوال دې پایلې ته ورسېدل چې د اسیایي مالي نظام د دوی د اصولو پر بنسټ نه چلېږي، نو دوی پخپله هم د جیوپولیټیکو موخو پر بنسټ عمل پیل کړ، او داسې مالي تگلارې یې غوره کړې چې د اسیایي سیستمونو د مداخلې بڼې ته ورته دي، په ځانگړې توگه د چین پر وړاندې د غبرگون په توگه، لوېدیځو هېوادونو د پانگونې د څېړنې او کنټرول میکانیزمونه رامنځته کړي او د پانگې د بهیر پر ازاد تگ راتگ یې محدودیتونه لگولي دي. د بېلگې په توگه، متحده ایالاتو پر هغو شرکتونو د پانگونې بندیز لگولی چې گومان کېږي د چین د خلکو د ازادۍ له پوځ (PLA) سره اړیکې لري، یا له شین‌جیانگ سیمې څخه مواد ترلاسه کوي، د هند، روسیې او چین ترمنځ د دوه اړخیزو مالي اړیکو ژورتیا او د ډالري تکیې د ورو کمېدو (de-dollarization) پروسه چټکه شوي ده(Pape & Petry, 2024).

**۴ـ مناقشه**

د دې څېړنې موندنې څرګندوي چې نړیوال مالي نظام د شلمې پېړۍ له منځنیو لسیزو څخه تر وروستیو پورې تر ډېره د امریکا متحدو ایالتونو او اروپایي هېوادونو تر مستقیم اغېز لاندې پاتې شوی و. د ۱۹۴۴م کال د Bretton Woods Conferenceله پایلو وروسته یو داسې نړیوال مالي جوړښت رامنځته شو چې په کې د امریکا ډالر د نړیوالو مالي معاملو اساسي محور وګرځېد. د معلوماتو له مخې نږدې ۷۵ سلنه نړیوالې راکړې ورکړې د ډالر پر بنسټ ترسره کېدې او شاوخوا ۶۵ تر ۷۰ سلنه نړیوالې زېرمې د ډالر په بڼه ساتل کېدې .(IMF, 2023) دا وضعیت د امریکا مالي ځواک پیاوړی کړ او نړیوال مالي نظام یې تر ډېره د لوېدیځ تر نفوذ لاندې وساته.

د څېړنې دا موندنه له هغو علمي تحلیلونو سره همغږي ده چې د نړیوال مالي نظام د لوېدیځ محوره جوړښت یادونه کوي. د بېلګې په توګه  Barry Eichengreen (2011)استدلال کوي چې د دویمې نړیوالې جګړې وروسته نړیوال مالي بنسټونه د امریکا تر مالي او سیاسي نفوذ لاندې جوړ شوي وو او د نړیوالو مالي معاملو د تنظیم اساسي معیارونه یې ټاکلي وو. همدارنګه نورې څېړنې ښیي چې اروپایي هېوادونه سره له دې چې د نړیوال GDPنږدې ۳۰ سلنه تولید یې درلود، خو د ګډې پیسې د نشتوالي او سیاسي ناهماهنګیو له امله ونه توانېدل د نړیوال مالي جوړښت لپاره بدیل مرکز رامنځته کړي.

په همدې دوره کې د اسیا حضور په نړیوال مالي نظام کې نسبتاً محدود و. د جاپان له استثنا پرته، د اسیا ډېری هېوادونه لا هم د صنعتي پرمختګ په لومړنیو پړاوونو کې وو او د نړیوال اقتصاد یوازې شاوخوا ۱۰ سلنه یې تولیدول .(World Bank, 2022) له همدې امله نړیوال مالي نظام تر ډېره یو لوېدیځ محوره جوړښت درلود او د امریکا–اروپا ګډ مالي بلاک د نړیوال اقتصادي تصمیم نیولو اساسي محور ګڼل کېده.

خو د ۲۱مې پېړۍ له پیل سره د اسیا چټک اقتصادي پرمختګ د نړیوال مالي جوړښت په بدلون کې مهم رول ولوباوه. د چین، هند، جاپان او د Association of Southeast Asian Nationsهېوادونو اقتصادي ځواک په چټکۍ سره زیات شو او تر ۲۰۲۴م کال پورې یې د نړیوال GDP نږدې ۳۶ سلنه جوړوله (Asian Development Bank, 2024).په ځانګړي ډول چین د نړیوالو صادراتو په برخه کې مهم رول خپل کړ، د نړۍ له سترو بانکونو څخه یې ځینې خپل کړل او د نړیوال پور ورکولو بدیل مالي بازارونه یې رامنځته کړل (OECD, 2023).دا پرمختګونه ښیي چې نړیوال مالي نظام ورو ورو د څو قطبي جوړښت پر لور حرکت کوي.

دا پایلې له هغو څېړنو سره همغږي لري چې د نړیوال مالي نظام د بدلون احتمال یې وړاندې کړی و. د بېلګې په توګه  Benjamin J. Cohen (2018)استدلال کوي چې د نوو اقتصادي قدرتونو راڅرګندېدل د نړیوالو اسعارو او مالي واک د توزیع لامل ګرځي. همدارنګه  Daniel W. Dreznerاو  Kathleen R. McNamara (2013)

ښيي چې نړيوال مالي نظام د نړيوال اقتصاد د قدرت د توازن له بدلون سره بدلېږي. خو دغو څېړنو د اسيا د هېوادونو ځانګړې رول او د هغوی د مالي نوښتونو عملي اغېزې په تفصيل سره نه وې تحليل کړې.

په همدې تړاو ځينې مطالعات ښيي چې آسيايي حکومتونه او شرکتونه د ملي مالي سيستمونو او نړيوالو بازارونو ترمنځ مهم منځګړی رول لوبوي. د بېلګې په توګه Lena Rethel او (2020) Elizabeth Thurbon په خپلو څېړنو کې څرګندوي چې آسيايي دولتونه د دولتي مالي بنسټونو او خصوصي شرکتونو له لارې نړيوالو پانګونو ته لاره هواروي او د سيمه ييزو مالي بازارونو د نړيوال کېدو بهير ګړندی کوي. همدارنګه (2019) Kenji Gotoh استدلال کوي چې آسيايي مالي شرکتونه د سيمه ييزو پانګونو او نړيوالو پانګه‌والو ترمنځ د اړيکو د پراخولو له لارې د نړيوال مالي بازار په پراختيا کې مهم رول لري. خو دغو څېړنو تر ډېره د آسيايي بنسټونو د منځګړي رول پر نظری اړخ تمرکز کړی او د هغوی د عملي اغېزو، مالي نوښتونو او د نړيوال مالي نظام په اوسني جوړښت کې د دقيق موقف تحليلي ارزونه پکې محدوده پاتې شوې ده.

په همدې اساس، اوسنۍ څېړنه د پخوانيو څېړنو ځينې مهم تشې ډکوي. د بېلګې په توګه د Abraham Newman Abdelal (2007)، Benjamin J. Cohen (2018)، او Leonard Seabrooke Konings (2016) مطالعات د نړيوال مالي نظام د جوړښت په اړه مهم نظری تحليلونه وړاندې کوي، خو د اسيا د هېوادونو د مالي ځواک د زياتېدو عملي اغېزې په تفصيل سره نه ارزوي. دا څېړنه د اسيا د مالي ځواک د زياتېدونکو عواملو، اوسني موقف او په نړيوال مالي نظام يې د مستقيمو اغېزو تحليلي ارزونه وړاندې کوي.

همدارنګه د نوو نړيوالو اقتصادي بلاکونو رامنځته کېدل هم د نړيوال مالي نظام په توازن کې بدلون راوستی دی. د BRICS هېوادونه اوس د نړيوال GDP شاوخوا ۳۱ سلنه او د نړۍ نږدې ۴۰ سلنه نفوس لري (BRICS Report, 2024). د دغو هېوادونو له خوا د نوو مالي بنسټونو لکه Asian Infrastructure Investment Bank او New Development Bank رامنځته کول د نړيوال مالي نظام په جوړښت کې د بدلون مهم عوامل ګڼل کېږي.

د نړيوالو زېرمو په جوړښت کې بدلون هم د دې تحول څرګندونه کوي. د معلوماتو له مخې د نړيوالو زېرمو په ترکيب کې د ډالر ونډه چې په ۲۰۰۰م کال کې ۷۱ سلنه وه، په ۲۰۲۴م کال کې ۵۸ سلنې ته راکمه شوې ده (IMF, 2023). په همدې وخت کې د چين يوان، جاپاني ين او نورو آسيايي اسعارو ونډه په تدريجي ډول زياته شوې ده. سربېره پر دې د (2024) World Gold Council معلومات ښيي چې آسيايي هېوادونو د سرو زرو د نړيوالو پېرودونو په بازار کې خپله ونډه له ۱۷ سلنې څخه نږدې ۴۷ سلنې ته لوړه کړې ده.

په ټوله کې پايلې ښيي چې نړيوال مالي نظام نور د امريکا د مطلق واحد قطبي واکمنۍ تر اغېز لاندې نه دی. د اسيا اقتصادي ځواک زياتېدل، د نوو مالي بلاکونو رامنځته کېدل، او د نړيوالو زېرمو په جوړښت کې بدلون

نړیوال مالي نظام په څرګند ډول د څو قطبي مالي نظم پر لور بیایي. دا بدلون نه یوازې اقتصادي توازن بدل کړی، بلکې د نړیوالو قدرتونو د سیاست، تجارت، پانګونې او جیو-مالي اړیکو بنه یې هم له بنسټه بدله کړې ده.
په پای کې، سره له دې چې د اسیا مالي ځواک په نړیوال مالي نظام کې مخ په زیاتېدو دی، خو د نړیوال مالي جوړښت د راتلونکو بدلونونو د درک لپاره لا هم دوامداره څېړنې ته اړتیا شته. د وخت په تېرېدو سره نوي مالي قدرتونه راڅرګندېږي او اړینه ده چې د هغوی د اغېزو او رول په اړه نورې څېړنې ترسره شي، تر څو د نړیوال مالي نظام د بدلونونو په اړه روښانه علمي انځور وړاندې شي.

**۵ـ پایله اخیستنه**

د دې څېړنې پایلې څرګندوي چې نړیوال مالي نظام د اوږدې مودې لپاره د امریکا متحده ایالاتو او اروپایي هېوادونو د مالي ځواک تر مستقیم حاکمیت لاندې رامنځته شوی و، هغه حاکمیت چې د ۱۹۴۴م د بریټن ووډز کنفرانس څخه وروسته یې رسمي بڼه خپله کړه. په همدې کنفرانس کې د نړیوال مالي نظم بنسټیز اصول، لکه د ډالر محوري توب، د IMF او World Bank جوړېدل، او د نړیوالو اسعارو د ثبات میکانیزمونه تعریف شول، چې د امریکا او اروپایي دولتونو د څو لسیزو لپاره د نړۍ د مالي سیسټم په تصمیم‌نیونه او جوړښت کې ستر نفوذ تضمین کړ، خو څېړنې وښودله چې په وروستیو لسیزو کې د اسیایي هېوادونو د اقتصادي او مالي ځواک چټک زیاتوالی د دې کلاسیک لوېدیځ‌محوره نظم توازن په تدریجي ډول بدل کړی دی. د چین، هند، جاپان، سویلي کوریا او ASEAN هېوادونو پراخه اقتصادي وده، د بهرنیو زېرمو د پام وړ لوړې کچې، د نړیوال تولیدي زنجیرې رهبري او د ټکنالوژۍ پراختیا د دوی مالي اغېز له سیمه‌ییز محدوده نړیوالو مرحلو ته ورسوه، او په نتیجه کې د نړیوال مالي نظام په تصمیم‌نیونه، د اسعارو په بازار، د پانګې په جریان او نړیوالو اقتصادي اړیکو کې د محسوس بدلون لامل شول.

څېړنې تایید کړه چې د اسیایي هېوادونو مالي پیاوړتیا یوازې د اقتصادي ابعادو په کچه نه، بلکې د بدیل مالي جوړښتونو د رامنځته کولو له لارې هم د لوېدیځ د پخواني انحصار مخه نیولې ده. د چین د Belt and Road Initiative سترې پانګې‌اچونې، د Asian Infrastructure Investment Bank رامنځته کېدل، د ډیجیټلي اسعارو پرمختګ په ځانګړي ډول e-CNY، د سیمه‌ییزو اسعارو د مبادلې میکانیزمونه، د RCEP ستر اقتصادي تړون، او د FinTech نوښتونه هغه مالي او ستراتیژیک ګامونه دي چې اسیا یې وتوانوله تر څو د لوېدیځو او اروپایي هېوادونو رول په نړیوال مالي نظام کې راکم کړي. د دغو بدلونونو ګډه پایله دا ده چې نړیوال مالي نظام د یو قطبي لوېدیځ واکمن جوړښت څخه د څو قطبي او څو مرکزیز مالي توازن په لور په حرکت کې دی، او اسیا په دې تحول کې نه یوازې یو راټوکېدونکی، بلکې ورځ تر بلې پیاوړی کېدونکی ستر مالي محور ګرځي. څېړنه دا پایله وړاندې کوي چې د اسیایي هېوادونو مالي ځواک به په راتلونکو لسیزو کې د نړیوال مالي نظام په

جوړېنت، جهت او تصمیم‌نیونه کې لا ژور بدلونونه رامنځته کړي، او نړۍ به د داسې مالي نظم پر لور بوځي چې د لوېديځ له تاريخي انحصاره زيات پراخ، متنوع او څومرکزي وي.

## ۶ـ ماخذونه


Abdelal, R. (2007). *Capital Rules: The Construction of Global Finance.* Harvard University Press. https://www.hup.harvard.edu/catalog.php?isbn=9780674024116.

Cohen, B. J. (2018). *Currency Statecraft: Monetary Rivalry and Geopolitical Ambition.* University of Chicago Press. https://press.uchicago.edu/ucp/books/book/chicago/C/bo27377373.html

Drezner, D. W., & McNamara, K. R. (2013). International political economy, global financial orders and the 2008 financial crisis. *Perspectives on Politics, 11*(1), 155–166. https://doi.org/10.1017/S1537592712003660
https://www.cambridge.org/core/services/aop-cambridge-core/content/view/6D4844409179B4157CC820C809B785DD/S1537592712003660a.pdf

Gotoh, F. (2019). *Japanese resistance to American financial hegemony.* Routledge. https://www.routledge.com/Japanese-Resistance-to-American-Financial-Hegemony/Gotoh/p/book/9781138896198

Hameiri, S., & Moramudali, U. (2025). Competing or complementary? Chinese loans and international bonds in Sri Lanka's default. *International Affairs, 101*(5), 1721–1745. https://doi.org/10.1093/ia/iiaf062
https://academic.oup.com/internationalaffairs/article/101/5/1721/7647427

Helleiner, E., & Kirshner, J. (2014). *The Great Wall of Money: Power and Politics in China's International Monetary Relations.* Cornell University Press. https://www.cornellpress.cornell.edu/book/9780801450844/the-great-wall-of-money/

Karim, M. F. (2025). From dependency to development? Pursuing foreign capital in rising Asia's financial order. *International Affairs, 101*(5), 1611–1632. https://doi.org/10.1093/ia/iiaf142
https://academic.oup.com/internationalaffairs/article/101/5/1611/7647423

Kennedy, A. B., & Lim, D. J. (2018). The innovation imperative: Technology and US–China rivalry in the twenty-first century. *International Affairs, 94*(3), 553–572. https://doi.org/10.1093/ia/iiy017
https://academic.oup.com/internationalaffairs/article/94/3/553/4986657

Koning's, M. (2016). Governing the system: Risk, finance, and neoliberal reason. *European Journal of International Relations, 22*(2), 268–288. https://doi.org/10.1177/1354066115593393
https://journals.sagepub.com/doi/full/10.1177/1354066115593393

Lee, J., & Kim, S. Y. (2025). Contesting the liberal script? The AIIB and the World Bank in development finance. *International Affairs, 101*(5), 1655–1677. https://doi.org/10.1093/ia/iiaf148
https://academic.oup.com/internationalaffairs/article/101/5/1655/7647425

Musthaq, F. (2025). The Reserve Bank of India's policy of bespoke liberalization. *International Affairs, 101*(5), 1589–1610. https://doi.org/10.1093/ia/iiaf144
https://academic.oup.com/internationalaffairs/article/101/5/1589/7647422

Nölke, A. (2023). Geoeconomic infrastructures: Building Chinese-Russian alternatives to SWIFT. In B. Braun & K. Koddenbrock (Eds.), *Capital Claims: Power and Global Finance* (pp. 147–166). Routledge. https://www.routledge.com/Capital-Claims-Power-and-Global-Finance/Braun-Koddenbrock/p/book/9781032035754

Ortiz, H. (2025). Contradictions in cross-border investment in China in the 2010s. *International Affairs, 101*(5), 1567–1587. https://doi.org/10.1093/ia/iiaf141 https://academic.oup.com/internationalaffairs/article/101/5/1567/7647421

Pape, F. (2025). The East Asian portfolio glut and the rise of unconventional exchange rate management. *International Affairs, 101*(5), 1633–1654. https://doi.org/10.1093/ia/iiaf143 https://academic.oup.com/internationalaffairs/article/101/5/1633/7647424

Pape, F., & Petry, J. (2024). East Asia and the politics of global finance: A developmental challenge to the neoliberal consensus. *Review of International Political Economy, 31*(1), 224–252. https://doi.org/10.1080/09692290.2023.2298812 https://www.tandfonline.com/doi/full/10.1080/09692290.2023.2298812

Petry, J. (2025). China’s quest for pricing power: Financial hierarchy, autonomy and commodity futures markets. *International Affairs, 101*(5), 1747–1768. https://doi.org/10.1093/ia/iiaf138 https://academic.oup.com/internationalaffairs/article/101/5/1747/7647429

Petry, J., & Nölke, A. (2025). *State, Capitalism and Finance in Emerging Markets: Between Subordination and Statecraft.* Bristol University Press. https://www.bristoluniversitypress.co.uk/state-capitalism-and-finance-in-emerging-markets

Rethel, L., & Thurbon, E. (2020). Finance, development and the state in East Asia. *New Political Economy, 25*(3), 315–319. https://doi.org/10.1080/13563467.2019.1689164 https://www.tandfonline.com/doi/full/10.1080/13563467.2019.1689164

Simons, A., & Rethel, L. (2025). Subordinated agency and sustainable finance in South-East Asia. *International Affairs, 101*(5), 1679–1699. https://doi.org/10.1093/ia/iiaf058 https://academic.oup.com/internationalaffairs/article/101/5/1679/7647426